شمیره 2

# ښې حکومتولۍ ته لارښودنې

## په عامه سکتور کې د ګټو د تضاد سره چال چلند کول

Centre for Integrity in the Defence Sector

## د صداقت او رښتينولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې

د صداقت او رښتينولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې (CIDS) صداقت او رښتينولي، د فساد پر وړاندې تدابير او په دفاعي سکتور کې ښه حکومتولي ترويجوي. د ناروې او نړيوالو ملګرو سره په يوځای کارکولو کې، دا مرکز په دې هڅه کې دی چې وړتيا جوړه کړي، د باخبرۍ کچه لوړه کړي او د فساد د احتمالي ګواښونو د کمولو لپاره عملي ابزار برابر کړي. CIDS د ناروې د دفاع د وزارت لخوا په 2012 کال کې تأسيس شو.

په دغه کتابګي کې هغه نظريې چې څرګندې شوې دي، د هغه د ليکونکي دي او حتمي نده چې د ناروې د دفاع د وزارت نظر څرګند کړي، او نه هم بايد هغه د ناروې د دفاع وزارت ته منسوبې کړای شي.

## د ليکونکي په هکله

**فرانسيسکو کاردونه** په CIDS کې يو اړوند نړيوال کارپوه دی. کاردونه يو نامتو کارپوه دی چې د ملکي خدمتونو او عامه ادارې د اصلاحاتو ، اداري قانون او عدالت، د فساد ضد تګلارو او د بنسټ جوړونې په طرح او ارزونه باندې تمرکز لري. د ده ازمېښت د ده د ټاټوبي هسپانيې څخه، چيرې چې ده په عامه خدمتونو کې خپلې کاري سابقې ته پرمختګ ورکړ، بيا تر نړيوالو سازمانونو لکه د اقتصادي همکارۍ او ودې لپاره سازمان OECD ، د SIGMA تر پروګرام پورې غزېږي، چيرې چې کاردونه د تګلارې د يوه مشر تحليل او تجزيه کوونکي په توګه په ملکي خدمتونو کې په عامه حکومتولۍ کې 15 کاله تېر کړل. په SIGMA کې هغه 25 مخ په پرمختګ او د انتقال په بهير کې هېوادونو ته په شرقي اروپا، افريقا، لاتينې امريکې او د کارابيين په سيمه کې مشوره ورکړله. ده د يوه قانون پوه په توګه زده کړه تر لاسه کړې (په والينسيا پوهنتون کې ، 1976) او په عامه اداري کارونو کې يو زيات شمېر ماسترۍ لري.

# سریځه

## ښې حکومتولۍ ته لارښودنې

د کوچنیو کتابګیو یوه ټولګه ده چې هر یو یې په خاصه توګه په دفاعي سکتور کې د ښه حکومتولۍ د موضوګانو د اهمیت په اړه بحث کوي. کتابګي داسې طرح شوي چې لوستل یې اسانه دي پرته له دې چې هغه مسئلې چې په خپل ماهیت کې څو اړخیزې او کله ناکله تخنیکي دي، تر حده ډېر ساده کړای شي. دا لارښودنې د غیر مسلکي کسانو لپاره لیکلې شوې دي او په هرې کومې یوې خاصې رشتې کې پخوانۍ مسلکي سابقې ته اړتیا نلري. دوی کېدای شي چې د هغو کسانو لخوا ولوستلې شي چې یا په یوې موضوع کې لېوالتیا لري او یا خو هم په یو زیات شمېر موضوع ګانو کې چې په دفاعي سکتور کې د ښې حکومتولۍ په اړه دي ، یوه لېوالتیا ولري – او یا په عامه سکتور کې په عمومي توګه – او دوی همدارنګه کېدای شي د تعلیمي موخو لپاره وکارول شي.

د صداقت او رښتینولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې (CIDS) د ناروې د دفاع د وزارت تر مشرۍ لاندې د وړتیا یو مرکز دی چې د ناټو د صداقت او رښتینولۍ د پروګرام په جوړولو کې یو فعال نقش لوبوي. د هغه په قیمومیت کې د پروژو، کورسونو او د وړتیا او ظرفیت جوړونې په ګډون، هم ملي او هم نړیوال کار نغښتی دی. په یوه منظم ډول د صداقت او رښتینولۍ د ترویجولو اصلي لامل د فساد د احتمالي ګواښونو او نورو غیراخلاقي چلندونو کمول دي، په داسې حال کې چې شفافیت او حسابورکونې ته هم ښه والی وربخښي. له همدې کبله، د یوې ښې حکومتولۍ لپاره په ډیموکراسۍ او د قانون د حاکمیت په چوکاټ کې شرایط برقرار شي. د دغه هوډ په موخه، ملکي مامورین د پرسونل سره او همدارنګه مسلکي صداقت او رښتینولي او لوړ اخلاقي معیارونه قاطع او فیصله کوونکي دي.

*په عامه سکتور کې د ګټو د تضاد سره چال چلند کولو* لارښود د فرانسیسکو کاردونه او سوین ایرکسن په مټ لیکل شوی او د انګرېډ باستیرود لخوا تصحیح شوی دی. زه غواړم چې د دوی د هیله بخښونکي کار لپاره له دوی څخه مننه وکړم.

د ښه حکومتولۍ د دې لارښود په هکله ملاحظاتو او ځوابونو ته تل ښه راغلاست ویل کېږي (cids@ifs.mil.no). د CIDS په اړه نور معلومات کېدای شي په www.cids.no ترلاسه شي.



**بارډ بریدرپ نودسن (Bård Bredrup Knudsen)**
**رئیس**

# محتوا

مقدمه.......................................................................................................4

د ګټو تضاد: د يوې عمومي مفهومي
عرصې په لټه کې..........................................................................................5

د ګټو تضاد: يو لړ تعريفونه چې په نړيوالو
مناظرو کې يې وړانديز شوی.........................................................................8

د تکلارې مسئلې: د ګټو د تضاد
يو قانوني رژيم جوړول..................................................................................11

په بېلابېلو هېوادونو کې پرتله.......................................................................... 15

د اجراکولو کمزورتیا یا ACHILLES' HEEL................................................................ 18

نتیجه ګیري............................................................................................... 20

# مقدمه

دیموکراسۍ په اصولو کې د دوو حوزو تر مینځ په وېش کې جوړې دي. له یوه پلوه، هلته مدني ټولنه او مارکېټ/بازار شته، چیرې چې شخصي ګټې او سوداګرۍ / بزنسونه غالبېږي، يو له بل سره سيالي کوي او هڅه کوي چې خپل ځانونو ته ګټې ترې واخلي. له بله پلوه، هلته دولت شته، او یا خصوصي سکتور، کوم چې د سیاسي او اداري حکومتولۍ او د عامه ګټو استازيتوب کوي. دولت د قضا په ګډون پر سیاسي طبقې او مسلکي عامه ادارې، تکیه کوي.

په اروپايي هېوادونو کې، دولت باید د دې تعریف وکړي چې په یوه هر اړخیزه توګه عامه ګټې یعنې څه، مارکېټ له هغه سره سم تنظیم کړي او دا دول مقررات تطبیق کړي. د عامه ګټو تعریف د مارکېټ په اقتصاد کې د لیبرالې دیموکراسۍ اساسي طرحې ته بنه ورکوي. هر څومره چې دیموکراسي او د قانون حاکمیت مستحکم وي، هغومره د عامه او شخصي ګټو تر مینځ تقسیماتي درز روښانه وي. د عامه حوزې او مارکېټ تر مینځ متقابلې اغېزې او کړنې د ګټو د تضاد ستره سرچینه ده، په ځانګړې توګه د عامه تدارکاتو ، د عامه – شخصي مشارکت ، دلالیو/لابیو ، څرخنده دروازو او دې ته ورته حالاتو. د ګټو د تضاد اداره کول د دې معنا لري چې د دغې متقابلې کړنې اداره په یوه داسې شان وکړای شي چې فردي آزادیو ته احترام وشي او په اخلاقي توګه ترسره شي ، په داسې حال کې چې عامه ګټې وساتلې شي- چې ډېر کله ورته "عامه ښې ګڼه" هم وايي.

د دې مقالې موخه دا ده چې هغې مفهومي او تنظیم کوونکې ستونزې راوپېژني چې د ټولنې د عامه او خصوصي حوزو تر مینځ متقابلو کړنو ته رسېدنه کوي. دغې ستونزې ، چې د ګټو د تضاد د بنې لرونکي دي، ډېرې پېچلې او ناپايه د حالاتو اړوندې دي، له همدې کبله له مفهوم سره تړلې دي ، کومې چې کېدای شي د تګلارو د جوړوونکو سره مرسته وکړي چې په ډېره مفصله توګه يې تنظیمې کړي. په رښتیا هم چې ډېرو هېوادونو د ګټو د تضاد حالات د مواردو پر بنسټ لاملونو له مخې خپل کړي دي. په واقعیت کې، دا په تاریخي توګه د اخلاقي مسئلو د تنظیم کولو میتود وو، خو یوه ډېره اوږده موده وړاندې په ذهني بې پروايۍ کې ورګوزار شو.

# د ګټو تضاد: د یوې عمومي مفهومي عرصې په لټه کې

د ګټو تضاد په لومړي نظر کې کېدای شي یو اسان تصور ښکاره شي. د برتانیایي اقتصاد پوه Tim Lankester له نظره، دا اوس یوه نوې پدیده ده:

- د سیاسي مشرانو او عامه چارواکو تر مینځ د ګټو تضاد، څرنګه چې موږ نن سبا په پوهېږو، د عامه اداري د شتون په اوږدو کې یې شتون دلود. د عصري ټولنو وړاندې په ډېریو ټولنو کې، د ګټې د تضاد دغه مفهوم کېدای شي پېژندل شوی نه وو. په ډېریو ټولنو کې دا خبره په خودکاره توګه فرض شوې وه چې سیاسي مشرانو او چارواکو به د خپلو عامه مقامونو له امتیاز څخه ګټه اخیستله چې خپلې شخصي ګټې وړاندې بوزي.

- دا په واقعیت سره یوازې د صنعتي دولت له ظهور څخه وه چې دا تصور راپیدا شو چې له عامه چارواکو او د دوی له سیاسي اربابانو څخه باید دا انتظار وشي چې په ځانګړې توګه د دولت په ګټه اقدام وکړي. د سترو نظامي جاطلبیو سره، لکه انګلستان او فرانسه په اتلسمې او نولسمې پېړیو کې او د بیسمارک Bismarck او هتلر Hitler جرمني ، اغېزمنو او په نسبي توګه غیرفاسدو د عامه چارو خدمتونو ته اړتیا درلوده ، که چیرې یې غوښتل چې د دوی دا جاه طلبۍ تر لاسه شوې وای. شوروي اتحاد داسې چارواکو ته اړتیا درلوده، کومو چې په پوره توګه هغه ټولنیز او اقیصادي انتقال ته وقف شوي ول چې د لېنن او ستالین په ذهن کې مجسم شوی وو. کله چې په لوېدیځې اروپا او نورو ځایونو کې هېوادونه دیموکراتیک شول او د دوی حکومتونه د خپلو ټګلارو په وړاندې حساب ورکوونکي شول، خلکو د یوه 'خپلواک او مقتدر کس ' په شان د رایو د صندوقونو له لارې پر سیاستوالو او چارواکو یې ټینګار وکړ چې دوی باید د عامه ګټو لپاره کار وکړي ، نه د خپلو شخصي ګټو لپاره.

- په ډېریو هېوادونو کې، له وخت سره د سیاستوالو او چارواکو د دندو په اړه توقع د یوه لا لوی شفافیت او واضح وېش په لور د دوی د عامه دندو او شخصي موخو تر مینځ بدله شوې ده. خو په هغو هېوادونو کې چې لا تر اوسه یې د دیموکراتیک کنترول ستره پیمانه نده تر لاسه کړې، په دې هکله یې انتظارات په ټیټه کچه کې دي؛ او همدغه حالت هغو هېوادونو ته کارول کېږي چې یوازې په دې وروستیو کې دیموکراتیک کړای شول او کوم چې د فساد او د واک څخه د ناوړې ګټې د اخیستلو پخوانی تاریخ لري.

- څرنګه چې لړ تر لږه د لوېدیځو عصري نظرونو له لارې کتل شوې، د سیاستوالو او عامه چارواکو لخوا د خپلو شخصي ګټو په موخه د واک څخه د ناوړې ګټې اخیستنه د ګټو د تضاد په اصلي ریښه کې ده. دا حالت هغه وخت رامینځته کېږي کله چې د سیاستوالو او چارواکو شخصي ګټې د حکومت او اېجنسۍ د ګټو سره ، له کومو سره چې دوی تړاو لري، همغاړي نه وي. هلته به

تل داسې کسان وي (کوم چې موږ د الترويست يا نوع دوست په نامه يادوو) کوم چې به خپل ځانونه په اتوماتيکه توګه او بې قيد او شرطه دغو موخو ته وقف کړي. هلته به نور کسان هم وي (په غرض ککړ) کوم چې به خپلو شخصي ګټو ته اجازه ورکړي چې د دوی د عامه دندو په چارو کې لاسوهنه وکړي او د خپل عامه موقف څخه د خپلو شخصي اهدافو لپاره ګټه پورته کړي.[1]

د لنکيسټر Lankester لخوا دغه ټکي، که څه هم چې ګټور دي، په واقعيت کې ستونځمن هم دي. نړۍ يو لا پېچلی ځای دی او دغه کټګورۍ چې کارولې شوې چې 'معناوي او استازيتوب' ورکړي په غوڅه توګه روښانه / واضح ندي. دغه ټکي چې په ډاډمنتيا سره د ډېرو لخوا شريک شوي، د منل شوي – که تر سوال لاندې وي – پوهې پر بنسټ ولاړ دي. په واقعيت کې، 'عامه ګټې' 'شخصي ګټې'، 'تبعيض/تعصب'، 'قانون ته وفاداري نه چې کارفرما ته'، په خپلې ښې وجهې ګنګ او مبهم مفاهيم دي. د عامه ګټو او شخصي ګټو تر مينځ توپير واضح ندی. د ماليې يو جرمن وزير ، Hans Eichel، په 2001 کال د ګټو په تضاد تورن شو کله چې ده د وزارت د الوتکې څخه کار واخيست چې خپلې انتخاباتي حوزې ته ولاړ شي او په يوه لاريون کې برخه واخلي. ده په ځواب کې وويل چې دی 24 ساعته په ورځ کې او اووه ورځې په اوونۍ کې د دولت وزير دی ، له همدې کبله د عامه او شخصي فعاليتونو تر مينځ تمايز د ده په اړه د اجرا وړ ندی.[2]

د ټولو حالاتو تنظيمول د قانون په لاس غير عملي او زيان راوړونکي دي. د دې پايله به څه وي که چيرې سياستوال يو قانون اصلاح کوي تر څو د يوه ځانګړي چارواکي ګټې وساتي (cf. Berlusconi in Italy)؟[3]

سربېره پر دې، قوانين مبهم او د اعتراض وړ دي، دا د دوی هغه کيفيت دی چې د مسلکي قانون پوهانو يوې درستې طبقې ته معيشت برابروي. د 'عامه ګټې' تعريف او دا چې څوک دا قانوني مشروعيت لري چې تعريف يې کړي، مبهم او د اعتراض وړ دی. په حقيقت کې، د عامه ګټې مفهوم جوړونه (ذهني کول) په هرې يوې ټاکلې شېبې کې هغه د لوبو ډګر دی، په کوم کې چې ديموکراتيک سياست د اعتراض وړ دی.

د فساد د ډېريو تعريفونو په بنياد کې په واقعيت سره عامه/شخصي دوګانګي پرته ده. دا د ګټو د تضاد د هر تصور په هسته کې ځای لري. عامه چارواکو ته يکار ده چې د خپلو شخصي ګټو او عامه سرچينو تر مينځ يو غوڅ توپير څرګند کړي. د يوې متعارفې پوهې له مخه، د اشخاصو لخوا د دغه عامه/شخصي تمايز تر پښو لاندې کول دي، کوم چې په بنسټيزه توګه فاسد چلند تعريفوي. د فساد اړوند رسواييو ته د هغه اقدام په سترګو کتل کېږي چې له مخې يې په څه ډول يوه ټولنه د عامه او شخصي حوزو تر مينځ توپير معلومولای شي. Haller او Shore ، د انسان پېژندنې د علم له لحاظه داسې فکر کوي چې انسان پېژندونکو لا ډېر پخوا د عامه / شخصي دوه حالتيز مبهم ماهيت لکه يوه فرهنګي کټګوري په اختياري او ذاتي ډول تر غور لاندې ونيو.[4] په داسې حال کې چې عامه او شخصي محدودې کېدای شي د ډېريو غربي ديموکراسيو لخوا مدون شوي وي، د دغو حوزو تر مينځ تل خړې ناحيې شته.

د اخبره ستونځمنه ده چې معلومه يې کړو چې څوک عامه ګټې تعريفوي. په ديموکراتيکه تيورۍ کې، دا د رای ورکوونکو د ډېرګړو استازي دي چې دا کار کوي. خو بيا هم، نور او لا نور شواهد دا څرګندوي چې هغه اقتصادي نخبګان او سازمان ورکول شوې ډلې چې د سوداګريزو ګټو استازيتوب کوي، د حکومت پر تګلارو د پام وړ خپلواک اغېز لري، په داسې حال کې چې د خلګو د سترې برخې ډلې او مينځنۍ اتباع لږ او يا خو هم هيڅ خپلواک نفوذ نلري[5] سهامي شرکتونه او سوداګريزې ګټې په مخ پر زياتېدونکې توګه دا

1 Lankester, Tim. 2007. "Conflict of interest: A historical and comparative perspective". Paper presented at the 5th Regional Seminar on making international anti-corruption standards operational, held in Jakarta, Indonesia on 6–7 August 2007. Available at: http://www.oecd.org/site/adboecdanti-corruptioninitiative/40838870.pdf

2 Haller, Dieter and Chris Shore (ed). 2005. *Corruption. Anthropological Perspectives.* London: Pluto Press.

3 See Stille, Alexander. 2007. *The Sack of Rome. Media + Money + Celebrity = Power = Silvio Berlusconi.* London: Penguin Books.

4 Haller, Dieter and Chris Shore (ed). 2005. *Corruption. Anthropological Perspectives.* London: Pluto Press.

5 See, for example, Gilens, Martin and Benjamin Page. 2014. "Testing Theories of American Politics: Elites, Interest Groups, and Average Citizens". *Perspectives on Politics* 12 (3): 564-581.

وړتيا لري چې پر هغه څه اغېز واچوي چې عامه ګټې دي او يا ندي او له همدې کبله د دې لپاره چې عامه تګلارو ته شکل ورکړای شي، په داسې حال کې چې د اتباعو ډېرکي به لږ توانايي ولري چې دا کار وکړي.

د 2007-2008 کلونو مالي بحران يو اړوند مورد دی. د مارکېټ يو بحران د بازار د ازادو ايدیالوژشستانو او عامه چاروکو لخوا په عامه پور او د بودجې په کسر بدل کړای شو. د اروپا په ګوټ ګوټ کې، د دې بحران څخه استفاده وشوه چې هغې تګلارې پياده کړي، کومې چې په واقعيت کې يو لږ ټاکلو ګټو ته يې خدمت کاوه: د شتمنو او لويو سهامي شرکتونو لپاره د مالياتو په کلکه کمول؛ د عامه خدمتونو ليلامول ؛ د کارګرانو د حقونو کمول. دې بحران د عامه چاروکو نقش او اجراات ، د انتخاب شويو سياستوالو په ګډون، د پام وړ يوه ځانګړې ټکي ته راوستل او دا پوښتنه يې راپيدا کړله: د دې خبرې تمیز په څه ډول وکړو چې څه وخت سياستوال د عامه وو د ګټو لپاره ناپايه هڅې کوي او کله دوی په سادګۍ سره هغې تګلارې تطبيقوي کومې چې د خصوصي سکتور لخوا وړاندې پورې وهل شوي. دې بحران په ډېرو هېوادونو کې د لوړ رتبوو چاروکو او سياستوالو ځايګاه، د عامه خدمګارانو په توګه او د عامه ګټو او ښې ګنو د مديرانو په توګه تر پوښتنې لاندې راوستله.

په دغسې شرايطو کې ټولنيزه بدبيني به مخ پر زياتېدو وي او د ګټو د تضاد د حالاتو د قبضه کولو لپاره به تنظيمي هڅې کېدای شي تر ډېره تشريفاتي وي د دې پر ځای چې ماهيتي وي (د بېلګې په توګه د ګټو د تضاد نشتون). شايد دا يوازينۍ لاره وي چې ډېری هېوادونه کولای شي داسې يو حالت / احساس جوړ کړي چې د ګټو د تضادونو سره چال چلند د عامه چارو د بنسټونو په مټ تر سره شي. خو بيا هم، ښه ابزار په خپل سر يوازې نشي کولای دا ننګونې له لارې ګوښه کړي. يو سياسي حل لاره تل اړينه ده چې دغو ستونزو ته رسېدنه وکړای شي.

# د ګټو تضاد: يو لړ تعريفونه چې په نړيوالو مناظرو کې يې وړانديز شوی

ان که يو شمېر هېوادونو د يوه شه پوره اوږده وخت لپاره دغو مسئلو ته رسېدنه کړې ده، د ګټو د تضاد مباحثه/ مناظره په نړيواله صحنه کې په نسبي توګه تازه ده. دې د ساړه جنګ د ختم وروسته کلونو کې وده وکړه. دا ډېره په زړه پورې ده چې وويو چې د فساد ضد لومړی ابزار چې د ګټو تضاد ته يې رسېدنه کوله د عامه چارواکو لپاره د چلند نړيوال قانون وو، چې د 1996 کال د دسيمبر پر 12 نېټه د ملګرو ملتونو په عمومي 59/51 اسامبله کې ومنل شو. د چلند دغه قانون د جرايمو د مخنيوي او د متخلفينو سره د چلند په هکله د ملګرو ملتونو د اتم لمبر کانګرس مستقيم محصول وو، چې په 1990 کال کې په هاوانا، کيوبا کې داير شو. د چلند دغه قانون د ګټو تضاد ته يوه پراخه مراجعه کوي، د دې مفکورې د تر ټولو حياتي مشخصات طرح کوي او يو زيات شمېر تدبيرونه وړکډوي چې بايد رسېدنه ورته وشي.

نړيوالې مناظرې د هغه تحقق څخه شرچينه اخلي چې پر حکومت باندې ويسا کېدای شي تر ډېره بريده د واک څخه د ناوړې ګټې اخيستلو په پايله کې په ډېرو ديموکراسيو کې مخ پر زړېدو/ ورستېدو وي. نړيوال ټوليز ځواب دا دی چې نوره بې طرفي ، شفافيت، څرګندوالی او حساب ورکونه د کنټرول د مناسبو ميکانيزمونو له لارې کېدای شي د اولس ويسا د هغوی په حکومتي بنسټونو کې بيا لاسته راوړله شي.

د ويسا د بيرته لاسته راوړلو مناظرې د نړيوالو سازمانونو پاملرنه ځانته رااړولې ده، کومو چې د ډېرو سختو غوښتنو وړانديزونه کړې دي، يا د نړيوالو معيارونو، او يا عامه صداقت او رښتينولۍ. دغه پديده په اروپايي اتحاديې کې د قبلولو وړ ده، د بېلګې په توګه ، چيرې چې نوي غړي هېوادونه متمايل ول چې د ګټو د تضاد تر دې سخت مقررات ولري، د زړو غړو هېوادونو په پرتله.

د قانوني الزام ماهيت لرونکو د فساد ضد نړيوالو ابزارو ، همدارنګه د 'پاسته قانون' په نامه پېژندل شويو کې هغه مقررات شامل دي چې مخنيوونکي تدبيرونه مطرح کوي، لکه معيارونه (د چلند قوانين)، سپارښتنې، او ابزار چې د عامه سکتور حساب ورکونه په نښه کوي، په دې هدف چې د ګټو د تضاد د مسئلو سره چال چلند وکړي:

- په امريکې کې دننه د فساد پر ضد کنوانسيون (3 ماده: مخنيوونکي اقدامات)؛
- د لوېديځې افريقا ايالتونو د اقتصادي ټولنې ترمن د فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه(5 ماده: مخنيوونکي اقدامات)؛
- د افريقايي اتحاديې کنوانسيون د فساد مخنيوی او ورسره مبارزه (7 ماده: په عامه خدمتونو کې فساد او اړوند جرايم يې)؛

- د ملګرو ملتونو د 2003 کال کنوانسیون د فساد پر وړاندې - UNCAC (II فصل: مخنیوونکي اقدامات)؛
- د ملګرو ملتونو د چلند نړیوال قانون د عامه چارو چارواکو لپاره (II ماده: د ګټو تضاد او د صلاحیت سلب)؛
- د اقتصادي همکارۍ او پراختیا لپاره سازمان: د عامه چارو په خدمتونو کې د ګټو د تضاد د مدیریت کولو سپارښتنې - عامه سکتور شفافیت او حساب ورکونه؛
- د اروپا شورا: د عامه چارو د چارواکو لپاره د چلند د قانون ماډل (13 ماده: د ګټو تضاد).

UNCAC یو اساسي مخنیوونکې وسیله د ګټو د تضاد د یو زیات شمېر مقرراتو سره ده. UNCAC پر شفافیت او معیاري کولو ټینګار کوي. د یو زیات شمېر مقرراتو امضا کوونکو ته هدایت ورکوي چې داسې معیارونه جوړ کړي چې د عامه چارو د چارواکو چلند هدایت کړي او په سیستمونو کې قوانین وضع کړي تر څو د تدارکاتو د قانوني شېوو او د عامه چارو د عامه شتمنیو د مدیریت څخه ډاډ تر لاسه شي. UNCAC همدارنګه د خصوصي سکتور سره د چال چلند سپارښتنې طرح کوي. کله چې یې مخنیوی ونشی، د ګټو تضاد کولای شي د بېلابېلو جنايي جرمونو لامل وګرځي، د واک څخه د ناوړې ګټې اخیستنې، د ناوړه نفوذ ، د عدالت په وړاندې خنډ ګرځېدلو او جنايي اختلاس او د عامه شتمنیو د غصبولو د شخصي ګټې لپاره په ګډون. UNCAC په بېلابېلو مواردو کې هر ممکنه جرم ته رسېدنه کوي:

- بډې، اختلاس یا په عامه سکتور کې د ملکیت بل انحراف (17 ماده)؛
- په نفوذ کې تجارت (19 ماده)؛
- د وظایفو څخه ناوړه ګټه اخیستنه(20 ماده)؛
- په خصوصي سکتور کې بډې او اختلاس (22 ماده)؛
- د عدالت په وړاندې خنډ ګرځېدل (25 ماده).

د UNCAC په شان د نړیوالو کنوانسیونونو سره سره، د ګټو تضاد یو ډېر ستونځمنه مسئله پاتېږي چې تعریف او په قانوني توګه تنظیم کړای شي. دا یوه په لوړه کچه سیاسي مسئله ده، کومه چې داسې تمایل لري چې خپلې وړې ګټمنې وسیلې د افشاګرۍ میکانیزمونو ته ورواړوي. خو بیاهم، دا ډول میکانیزمونه په اسانۍ سره کولای شي د تر ډېره بریده د ساده جوړولو په شېوو بدل شي. دوی ډېرو هېوادونو ته دا اجازه وکوي چې د ګټو د تضاد ښه قانوني رژیمونه نندارې ته وړاندې کړي – د بېلګې په توګه، څکه چې دوی هر یو کس مجبور کړ چې خپلې شتمنۍ اعلان کړي – په داسې حال کې چې سره له دې عامه ګټې د هغو ورکړل شویو شخصي ګټو سره نغښتې پاتېږي چې د پخوانیو او اوسنیو عامه چارو چارواکو خدمت کوي.

دا به د دې ارزښت ولري چې شا او خوا وګورو چې د ملي او نړیوالو اشخاصو/هیأتونو لخوا د ګټو د تضاد په اړوند کوم تعریفونو وړاندې شوي دي. د فرانسې د فساد د مخنیوې لپاره مرکزي خدمتونه (SCPC) داسې وړاندیز څرګندوي چې د ګټو تضاد د یوه کس یو امري حالت دی، په کوم کې چې دی/دا د دوو انشعابي راګرځېدونکو ګټو سره مخامخ دي، یوه یې عمومي او بله یې شخصي یا خصوصي ده، او دی / دا باید پرېکړه وکړي چې له هغو څخه یوې ته خدمت وکړي.[6]

د 2000 کال د می د میاشتې پر 11 نېټه د اروپا د شورا د وزیرانو د کمېټې د 10(2000) سپارښتنې په 8 ماده کې داسې بیان کوي چې د عامه چارو چارواکي باید دا اجازه ورنکړي چې د ده/دې شخصي ګټې د ده/هغې د عامه چارو ګټو سره په تضاد کې واقع شي. دا یو شخصي مسئولیت دی چې د دغه ډول یوه تضاد څخه ډډه وشي، که واقعي وي، بالقوه وي او یا

6 Service central de prévention de la corruption (SCPC). 2004: “Le conflit d’intérêts”. Available at: http://www.justice.gouv.fr/art_pix/rapportscpc2005.pdf (pages 23–83).

ښکاره وي. د عامه چارو چارواکي باید هیڅ کله له خپلې دندې ناروا امتیاز وانخلي چې د هغوی خپلو ګټو ته خدمت وکړي.[7] دا سپارښتنه (13 ماده) یو تعریف ورکوي چې له مخه یې د ګټو تضاد له یوه داسې حالت څخه رامنځته کېږي، په کوم کې چې د عامه چارو چارواکی داسې شخصي ګټه لري چې داسې ښکارې چې د هغه/هغې د رسمي / عامه دندو پر بې طرفانه او واقعي پرځای کولو اغېز اچوي. په دغه ماده کې د شخصي ګټې د تصور جزئيات شامل دي.

د OECD غړي هېوادونه داسې غور کوي چې د ګټو په تضاد کې د عامه چارو د مامورینو د عامه دندې او شخصي ګټو تر مینځ تضاد ښکېل دی، په کوم یوه کې چې د عامه چارو مامور داسې شخصي ګټې لري کومې چې په نامناسبه توګه د هغه د رسمی دندو او مسئولیتونو پر اجرااتو باندې اغېز اچوي.[8]

په عامه ژوند کې د ګټو د تضاد د منعکس کولو او د هغوی د مخنیوي لپاره د فرانسې کمیسیون د 2011 کال د جنورۍ په میاشتې کې خپل رپوټ د دې جمهوریت جمهور رئیس ته وړاندې کړ.[9] دې کمیسیون د ګټو د تضاد تعریف داسې وړاندې کړ چې دا داسې یو حالت دی چېرې چې د عامه چارو د چارواکي شخصي ګټه د هغه/هغې د عامه خدمتونو د ماموریت په چارو کې لاسوهنه کوي، که چېرې دغه شخصي ګټه، د هغې ماهیت او شدت، کېدای شي په معقولانه توګه داسې وانګېرل شي چې د دې د توانایي لري چې د عامه چارو د دندې په ازادانه، بې طرفانه او عیني توګه په پرځای کولو باندي اغېز واچوي او یا داسې ښکاري چې اغېز اچوي. په همدې شان یو بل تعریف د 5/2006 د هسپانیې د قانون په 4 ماده کې موندل کېږي چې د دولت په عمومي اداره کې د حکومت د غړو او لوړپوړو چارواکو د ګټو تضاد په قانوني توګه تنظیموي.

د خلګو اروپایي فریاد رسوونکی European Ombudsman دا لاندې تعریف کاروي: "هغه حالات په کومو کې چې د عامه چارو مامورینو شخصي ګټې او تړاو داسې ښکاري چې یا د ده/هغې د رسمي دندې په سمه توګه تر سره کولو کې تضاد رامینځته کړي او یا داسې بالقوه واک ولري چې رامینځته یې کړي".[10] که څه هم دا یو واضح او د معنا ډک تعریف دی، خو هغه موږ ته نه وایي چې په کومو حالاتو کې دا کېدای شي رامینځته شي.

7 See Recommendation (2000)10 at: https://www.coe.int/t/dghl/monitoring/greco/documents/Rec%282000%2910_EN.pdf

8 OECD. 2003. "Managing Conflicts of Interests. OECD Guidelines and Country Experiences". Available at: http://www.oecd.org/corruption/ethics/48994419.pdf

9 Commission de réflexion pour la prévention des conflits d'intérêts dans la vie publique. 2011. "Pour une nouvelle déontologie de la vie publique". Available at: http://www.conflits-interets.fr/pdf/rapport-commission-conflits-interets-vie-publique.pdf

10 See Intervention of Mr. Ian Harden, Secretary General of the European Ombudsman, in the Workshop "Better Avoidance of Conflicts of Interest: EU Agencies and Other Bodies Moving Forward". Organised by the European Parliament, Brussels, on 21 February 2013. Briefing Paper available at: http://www.europarl.europa.eu/RegData/etudes/workshop/join/2013/490675/IPOL-JOIN_AT(2013)490675_EN.pdf

# د تګلارې مسئلې: د ګټو د تضاد یو قانوني رژیم جوړول

د ګټو تضاد پر خپل سر لزوماً فساد ندی. په واقعیت کې ټول هېوادونه هغه حالات چې د ګټو تضاد پکې ښکېل وي نه جنايي کوي. خو بیا هم، د ګټو د تضاد وضعیت پر حکومتي بنسټونو د عامه ویسا لپاره ډېر زیان راوړونکی دی. یوې پرتله ییزې څېړنې چې کلونه وړاندې په اروپایي اتحادیې کې تر سره شوې وه داسې یادونه یې کړې چې '[په ډېریو] وختونو کې، فساد هله رامینځته کېږي چیرې چې لاله وړاندې یوې شخصي ګټې په نامناسبه توګه د یوه عامه چارواکي پر کړنو اغېز اچولی له همدې کبله د ګټو د تضاد مخنیوی باید د هغې تګلارې برخه وي چې د فساد پر وړاندې مبارزه وکړي او مخنیوی یې وکړي'[11] دې څېړنې دا همدارنګه څرګنده کړېله چې د ګټو تضاد کېدای شي واقعي (امري حقیقت)، ښکاره او بالقوه وي. هغوی ټول په مساویانه توګه پر عامه بنسټونو د اتباعو د ویسا ویجاړوونکي دي.

د ګټو تضاد یوازې په هغو حالاتو کې نه رامینځته کېږي چیرې چې په واقعیت کې د یوه عامه چارو چاواکي د ګټو د یوه شخصي تبعه په توګه او د هغه/هغې د دندې د یوه عامه چارواکي په توګه یو نه منونکی تضاد شته، خو همدارنګه په هغو حالاتو کې رامینځته کېږي، په کومو کې چې یو ښکاره او یا بالقوه د ګټو تضاد وي. د ګټو یوه ښکاره تضاد هغو حالاتو ته ویل کېږي، چیرې چې یوه شخصي ګټه شته کومه چې کېدای شي په معقولانه توګه د نورو لخوا داسې انګېرله کېږي چې د عامه کارکوونکي پر دندې اغېز اچوي ، که څه هم چې په واقعیت کې داسې کوم ډول ناروا اغېز نشته او یا دغه ډول یو ګټه کېدای نشي چې د عمل جامه واغوندي. د شک په اړه بالقوه امکان د چارواکي د صداقت او رښتینولي او/یا د چارواکي د سازمان صداقت او رښتینولي دا کار جبري کرځوي چې د ګټو د یوه ښکاره تضاد په هکله غور وشي د هغه حالت په توګه چې باید یې مخنیوی وشي. د ګټو بالقوه تضاد کېدای شي په هغه ځای کې شتون ولري، چیرې چې یو چارواکی د شخصي ظرفیت ګټې لري کومې چې به وکولای شي په راتلونکې کې په یوې زماني مقطع کې د ګټو د تضاد لامل وګرځي.

د ګټو د تضاد تعریف ، خو بیاهم، د فساد یو پراخ تصور په ځان کې رانغاړي. فساد یوازې د بډو ورکول او یا اخیستل ندي. په فساد کې د سیاست فساد شامل دی ، کوم چې په دې معنا دی چې په ټولو هغو کړنو کې چې سیاسي لوبګر (د عامه چارواکو په ګډون) د (دیموکراتیکو) سیاسي لوبو قواعد تر پښو لاندې کوي او خپلې ګټې تر خپلو عامه دندو لوړې بردي. د دیموکراتیکو سیاسي لوبو قواعد دا خبره تصریح کوي چې عامه چارواکي نباید له خپل واک څخه د مستقیمو او یا غیرمستقیمو موخو لپاره ناوړه ګټه واخلي. د واک څخه ناوړه ګټه اخیستل یوازې هغه ندي چې دوی قانون تر پښو لاندې کوي، بلکې همدارنګه کله چې دوی عامه اخلاقو او عامه ښې ګڼو ته د خدمت دنده د خپل واک د زیاتولو ، مقام او یا شتمنۍ په موخه قواعد نقضوي.[12]

11 OECD SIGMA. 2005. "Conflict of Interest Policies and Practices in Nine EU Member States: A Comparative Review". Available at: http://dx.doi.org/10.1787/5kml60r7g5zq-en

12 Ibid.

په فرانسه کې prise illégale d'intérêts (یا په قانوني توګه یوه ځانګړې ګټه تر لاسه کول) د جزا د قانون د 12-432 مادې په اساس جرم دی. دغه ډول یو جرم عبارت له دې څخه دی چې یو انتخاب شوی کس خپله رسمي دنده د عامه چارو یوه هیأت په تشکیل کې د خپلې شخصي ګټې لپاره کاروي. دا کار د جزا وړ دی، که په اثبات ورسېږي، د پنځو کلونو بند او نیم میلیون یورو جریمه لري. خو بیا هم، prise illégale d'intérêts د ګټو د یوه 'ساده' تضاد څخه بېل دی، کوم چې پخپل سر جرم ندی.[13] دا خبره ثابته شوې ده چې په محکمه کې د یوه جرم به اثبات رسول ناپایه ستونځمن کار دی، که څه هم چې کله ناکله د محکمې د ګرمېدلو حکم صادر شوی دی.

د نولان Nolan Committee د کمیټې لومړی رپوټ د 'پوښتنې لپاره نغدې پیسې' د برتانیې په پارلمان کې رسوایي داسې څرګندوي 'د دیموکراتیک بهیر لپاره دا اړینه ده چې د پارلمان غړي باید د خپلو اخلاقي او ټولنیز چلند رښتینتوب د تر ټولو په لوړو معیارونو کې وساتي کله چې خپلې وظیفې د هغو خلکو په وړاندې ترسره کوي چې دوی یې ټاکلي دي. دا همدارنګه د عامه اعتماد لپاره اساسي ده چې باید ولیدل شي چې دا کارونه ترسره کېږي.'[14] په پایله کې، په 1996 کال کې د چلند قانون د برتانیې د اولسي جرګې د غړو لپاره تعدیل کړای شو، پدې ډول سره یې وښودله چې برتانوي شېوه پر هغه تصور ولاړه ده چې د ګټو د تضاد تګلارې په حکومت کې د اخلاقي معیارونو یو اړخ دي.

د ګټو د تضاد د تګلارې لومړنۍ موخه په حکومت او سیاسي طبقه کې د ویسا محافظت او لوړول دي. د ګټو د تضاد هر ډول واقعي، ښکاره او یا بالقوه حالت د فساد او د زیان راوړنوکو اغېزمنتیاوو احتمالي ګواښ د یموکراسۍ پر اصولو او بهیرونو باندې له ځانه سره لري.که څه هم چې د هغه تعریفول په انتزاعي توګه خورا ساده ښکاري، خو د ګټو د تضاد واضح مقررات د فساد د یوه مخنیوونکي میکانیزم په توګه د یو زیات شمېر لاملونو له کبله ډېر پېچلي دي.

د ګټو د تضاد د قانوني تنظیمولو موخه دا ده چې د پرېکړې کوونکي بې طرفۍ او خپلواکۍ ته استحکام وروبخښي او همدارنګه د هغه/هغې وفاداري د هېواد قانوني نظم ته تر بلې هرې یوې وفادارۍ په لوړه او زیاته کچه تأمین کړي. د ناپېیلتوب ارزښت ته احتمالي خطر نه یوازې په قانوني مقرراتو پورې اړه لري، بلکې همدارنګه د یوه کس په مسلکي اخلاقو او اخلاقي اصولو پورې اړه لري. دا دوه وروسته ذکر شوي به په محسوسه توګه د هر چا د شخصیت په اړه عینې وي او د پېښېدو احتمال یې شته. د عیني توب بعد د هرې هڅې په وړاندې خنډ ګرځي چې داسې قانوني مقررات برابر کړي تر څو په واضحه توګه دغه عامه پرېکړه کونه د تعصب څخه پاکه وساتي. له همدې کبله ډېر کله داسې ویل کېږي چې لومړنی قضاوت د ګټو پر بالقوه تضاد د هغه څوکۍ لرونکي لخوا کېږي ، کوم چې باید دا تمیز وکولای شي چې آیا یو شخصي حالت، په کوم کې چې ده/دې غوټه خوړلې، آیا د ده/هغې پر پرېکړې پر یوه ځانګړې عامه مسئلې اغېز اچوي او یا احتمال یې شته چې اغېز واچوي او که نه. د دندې د لرونکي شخصي درک به تل د قضاوت پایله معلومه کړي. دا همیشه عیني وي، ان که چیرې یو قصدي نیت د تقلب یا درغلۍ لپاره نه وي. له همدې کبله یو ښه عامه چلند به تل د یوې مسئلې په اړه د یوه پرانیستي بحث مشوره ورکړي که شک ولري، د بېلګې په توګه ، د یو آمر سره.

د ګټو د تضاد قانوني تنظیمول همدارنګه دا معنا لري چې پر هغو طریقو چې بنسټونه کار کوي ژوره پلټنه وکړو ، په تېره بیا په سیاسي کچه، د دوی د پرېکړې کونې پر بهیرونو او د دوی د لومړیتوبونو پر تعیینولو. دا یو پېچلی تمرین دی ځکه چې دا لازمه ده چې د شونې احتمالي ګواښ ماهیت او شدت معلوم کړو چې د ګټې د تضاد په یوه حالت کې نغښتی دی. یوازې تر دې وروسته به دا ممکنه وي چې د یوه تر ټولو مناسب ځواب او یا درملنې په هکله پرېکړه وکړو. تر ټولو په وار وار کارول شوي ابزار حقوقي

13 See Rebut, Didier. 2013. « Les conflits d'intérêts et le droit pénal». *Pouvoirs, revue française d'études constitutionnelles et politiques* 147: 123-131.

14 The scandal began in October 1994 when *The Guardian* newspaper alleged that London's most successful parliamentary lobbyist had bribed two conservative MPs in exchange for asking parliamentary questions, and other tasks.

قوانین یا اخلاقي قوانین دي، د فرهنګي اداري دود او دستور اړوند. په یو لړ هېوادونو کې، قانون د عامه چارو چارواکو د ګټو په تضاد کې د ښکېلېدلو عمومي ممنوعیت تعریفوی، په داسې حال کې چې د اخلاقو پر سملاسي عملي قوانینو چې په بنسټیزه کچه صادرېږي هغه ممنوع شوی چلند مفصلاً بیانوي او داسې سپارښتنه برابروي چې څرنګه د ګټو د تضاد څخه ډډه وکړله شي.

د ګټو تضاد ته ځوابونه کېدای شي مخنیوونکي وي یا ځپونکي. یو لړ شمېر هېوادونه خپل د جزا په قانون کې د ګټو د تضاد په اړه مراجع لري، د ختیځې اروپا په استثنا. ډېری هېوادونه هغه ځانګړي چلندونه یا کړنې چې د ګټو د تضاد څخه سرچینه اخلي جنایي کوي، خو نه هغه واقعیت چې له مخه یې د ګټو د تضاد په یوه واقعي، ښکاره او یا بالقوه حالت کې وي. له همدې کبله موږ کولای شو دا نتیجه واخلو، چې د ګټو د تضاد قانوني تنظیمول په لوېدیځو دیموراسیو کې په اصولي توګه د فساد ضد تګلارو او میکانیزمونو په مخنیوونکي اړخ پوري اړه لري. مخنیوونکي تدابیر، د تعریف له مخه، د دې لپاره دي چې د یوه ځانګړې پېښې او حالت د پېښېدلو څخه مخنیوی وکړي. د دوی د واقعي اغېزمنتیا اندازه کول ستونځمن دي. په ښه توګه پېژندل شوې 'تخصیصي ستونزه' د هغه حد د اندازه کولو ستونځمنتیا اظهاروي، په کوم کې چې یوه ټاکلې پایله کېدای شي یوې تېرې کړنې ته منسوبه وي، د بېلګې په توګه، د حکومت د یوه بنسټ او یا د عامه چارو د یوه چارواکي لخوا.

یو روښانه قانوني چوکاټ، خو بیا هم، ډېر حیاتي دی چې په عمل کې د ګټو د تضاد له یوه حالت څخه مخنیوی وکړای شي. دا قانوني چوکاټ یوه قانوني قطعیت ته یو مخشرط دی، کوم چې د قانون د حاکمیت او چې عامه ګټې وساتي، همدارنګه د یوه کس حسابورکونې او شخصي مسئولیت معلوم کړي. یو اساسي تنظیم کوونکی قانوني سوال باید دا خبره معلومه کړي چې کوم عامه او یا شخصي دباندیني فعالیتونه او یا ګټې دي د یوه عامه چارو کارکوونکي لپاره د هغه/هغې د عادي کار سره په ګډه د یوه عامه چارو چارواکی په توګه غیر قانوني وبللې شي.

بله پوښتنه دا ده چې کوم تدابیر د عامه او شخصي ګټو په انډولولو کې مرستندویه دي.

د دې لپاره چې د ګټو د تضاد په شتون کې معقولیت/ذهنی ګرایي لرې کړو، د هغه قانوني تنظیم ته پکار ده چې معیاري حالت د نمادیني معنا پر بنسټ وي. ننګونه یې خو پدې کې ده چې د ناسالم استدلال څخه دې ډډه وشي. د بېلګې په توګه، د پرېکړې کونې په بهیر کې د یوه سیاستوال حالت کاملاً د صفوفو د یوه ملکي مامور د حالت څخه بېل دی. په ترتیب سره، د یوه لوړ پوړي ملکي مامور حالت په د پام وړ اندازه د صفوفو د یوه ملکي ماور د حالت څخه بېل دی. د سیاستوالو په ډله کې دننه، د پارلماني غړو واقعیتونه د اجرایي برخې د غړو څخه بېل دي کله چې خبره د دوی د توانایيو او د عامه پرېکړو پر کولو د نفوذ په هکله وي.

هر څومره چې د دندې لرونکي موقف د سلسلو په اداري مراتبو کې لوړ وي، هغومره یې احتمال زیات دی چې دی/دا به په پرېکړې کوونې که خپل د لزوملیدي/بصیرتي واک څخه کار واخلي. هر څومره چې د یوې دندې لرونکي ازاد وي چې خپل شخصي قضاوت په پرېکړه کوونې کې و کاروي، هغومر د دې احتمال شته چې دی/دا کېدای شي د ګټو د تضاد په حالت کې ګیر پاتې شي. له همدې کبله، دا د عامه مسئولیت په همدغه کچه کې ده، چیرې چې د ګټو د تضاد او ناسازګاریو د اړتیاوو قانوني تنظیم باید شدید وي. دا یې یو لامل دی چې ولې وزیران او د عامه چارو لوړ پوړي چارواکي د ګټو د تضاد د سخت قانوني تنظمولو په معرض کې دي (یا باید وي).

یو شمېر حالاتو ته چې د عامه چارو پر لوړ پوړو چارواکو اغېز اچوي (سیاستوال او لوړ پوړي ملکي مامورین او همدارنګه یو لړ نور ملکي کارکوونکي چې د عامه چارو وظیفې پر غاړه لري) په حقوقي لحاظ باید نژدې تره پاملرنه وشي ځکه چې د دوی پرېکړې کوونې کېدای شي ډېرې زیان ورکوونکې وي که چیرې دا پرېکړې غرضمندې یا له درغلۍ ډکې وي. ممکنه قانوني تدابیر د لاندنیو پوښتنو په ډول کېدای شي جمله بندي شي:

- آیا باید د عامه چارو د دندې څخه بهر مسلکي یا تادیه شویو فعالیتونو ته اجازه ورکړله شي؟

- آیا د عامه چارو چارواکو ته دې اجازه وکړله شي چې د سیاسي ګوندونو په فعالیتونو کې برخه واخلي، کوم چې اړ دي د خپلو بې طرفیو محافظت غښتلی کړي (لکه قاضیان، څارنوالان، دولتي تفتیش غړي یا د محاسبو محکمې ، د مرکزي بانک کارمندان، لوړ رتبه پوځي افسران او د پولیسو د قواوو غړي)؟

- آیا باید د عامه چارو کارکوونکو ته دې اجازه ورکړله شي چې تحفې، اعانې او یا د انعامونو نور ډولونه ترلاسه کړي؟

- آیا د عامه چارو تر وظیفې وروسته فعالیتونو دې د هغو کسانو لپاره چې د عامه چارو دفتر پرېږدي تر څو د 'څرخي دروازو' د اغېز څخه مخنیوی شوی وي ،محدود کړای شي؟ که چیرې داسې وي، دغه ډول یوه د غور کولو موده باید څومره دوام وکړي؟ آیا باید د عامه چارو پخواني چارواکي او د پوهنتون پروفیسران  باید مجبور کړای شي چې خپلې مسلکي ګټې او اړیکې اعلان کړي کله چې دوی خپل ځانونه په عامه بحثونو او یا نشریو کې د کارپوهانو په توګه معرفي کوي؟

- د دننني معلوماتو کارونه باید په څه ډول قانوني تنظیم کړای شي؟

- د پرېکړې کولو د بهیر څخه د چارواکو د ګوښه کېدلو شرایط باید په څه ډول قانوني تنظیم کړای شي؟

- آیا باید د شتمنیو درستوالی دې افشا کړای شي؟ آیا باید دغه افشاکونه د عامو خلکو اطلاع ته ورسوله شي؟ آیا د عامه دندې لرونکي دې مجبور کړای شي چې یو لړ شتمنۍ دې په ړندو وجهي صندوقونو کې پرېږدي؟ د تصدیق کوم ډول میکانیزمونه دې جاري کړای شي؟

- آیا د شخصي اقتصادي ګټو او یا هم د خپلوانو هغوی دې اعلان او ثبت کړای شي؟ آیا دغه ډول معلومات دې د عامه خلکو اطلاع ته ورسول شي؟

- تر کومه حده باید د عامه چارو کارکوونکو ته دې اجازه ورکړله شي چې افتخاري مقامونه او یا د خیریه موسسو او یا د نورو غیر انتفاعي سازمانونو غړیتوب ولري؟

- ادا ډول قانوني تنظیمول باید په څه ډول عملي کړای شي او کوم ډول اداري ته دې د تطبیقولو د نظارت دنده په امانت وروسپارله شي؟

# په بېلابېلو هېوادونو کې پرتله

ډېریو هېوادونو د ګټو د تضاد په اړه قوانین او مقررات تصویب کړي دي. د ګټو د تضاد کنټرول د فساد پر وړاندې د مبارزې لومړي صف ته وراوښتی دی. د ګټو د تضاد مدیریت کول د صداقت او رښتینولۍ لپاره بنسټیز او د فساد ضد یو مهم ابزار  پېژندل شوی. د ګټو په تضاد د بهتر پوهاوي او باخبرۍ موخه د بنسټیز چوکاټ د غښتلتوب، د نړیوالو پر عملي کړنو د روښنايۍ، په عامه ژوند کې پر اخلاقو باندي ولاړ د یوه دود او دستور معرفي کولو او چې د شته ابزارو او وسیلو چې د فساد پر وړاندې د زیانمنني کچه ټيټه کړای شي، کارول دي.

د ګټو د تضاد قانوني تنظیمول له یوه هېواد څخه تر بله پورې په د پام وړ اندازه توپیر لري.[15] د ورته والي نشتون په یو شمېر بدلون منکو پورې اړه لري لکه د عامه او خصوصي سکتور تر منځ د بېلتون د وضاحت درجه، د چیک او بیلانس د سیستم اغېزمنتیا، او ’د قانون تنظیمي تراکم‘، د تفصیل کچه او د مقرراتو د پراخوالي[16] په اروپايي اتحادیې کې، نوي غړي هېوادونه، په ځانګړې توګه لاتویا او بلغاریا د ګټو د تضاد تر ټولو ’متراکم‘ قانوني تنظیمول لري.

15 Demke, C. et al. 2008. "Regulating Conflicts of Interest for Holders of Public Offices in the European Union: A Comparative Study of the Rules and Standards of Professional Ethics for the Holders of Public Office in the EU-27 and EU Institutions". Available at: http://ec.europa.eu/dgs/policy_advisers/publications/docs/hpo_professional_ethics_en.pdf

16 See Vukadinovic, Jelena and Mirjana Glintic. 2013. "Conflict of Interest". In *Legal Mechanisms for Prevention of Corruption in Southeast Europe. With Special Focus on the Defence Sector*, edited by Aleksandra Rabrenovic, 95-130. Belgrade: Institute of Comparative Law.

په زړو غړیو هېوادونو کې، د ګټو د تضاد رژیمونه د قانون پر بنسټ دي، خو نه یوازې. پر پرځای کولو نظارت او د تخلف لپاره مجازات ورکول لازم الاجرا منل شوي، خو دوی د ګټو د تضاد د تګلارو په تطبیقولو کې یوازیني او یا تر ټولو زیات کارول کېدونکي ندي. په ښه تاسیس شویو دیموکراسیو کې د دغو تګلارو ډېری پر مدیریت ولاړې دي او د ګټود د تضاد د پېښېدلو څخه پر مخنیوي د صداقت او رښتینولۍ او د سم اخلاقي چلند په لور د روزنې، استقامت ورکولو او مشورت ورکولو له لارې تر سره کېږي.

په یو لړ هېوادونو کې، اساسي قانون یو معین شمېر مقتضیات یا اخلاقي اصول لکه ناپېیلتوب یا عیني والی یا نور د اداري قانون اصول لکه ازادوالی او شفافیت تاسیسوي. په نورو کې، اساسي قوانین د ښه حکومتولۍ او اداري یا د عامه خدمتونو د معیارونو په هکله پټه خوله دي.

د جزا قانون په ډېریو هېوادونو کې د ګټو د تضاد د قانوني تنظیم معمول ابزار دي. د اروپايي اتحادیې ډېری غړي د بېلابېلو بنسټونو لپاره جدا او بېلابېل قواعد لري، د دې پر ځای چې په ټولو پورې تړلي هر اړخیزه مقررات ولري چې ټولو بنسټونو او د عامه چارو چارواکو ته د اجرا وړ وي. یوازې په یو څو هېوادونو کې دغه مقررات د عامه چارو ټولې اداري او د حکومت ټولو بنسټونو لپاره د اجرا وړ دي.[17]

17 E.g. "The Seven Principles of Public Life" of the UK apply to all public officials and civil servants.

په هغو هېوادونو کې چې د ګټو د تضاد په هکله کوم مشخص قواعد نه لري، هلته یو لړ قوانین دي چې په معینو عامه چارو وظیفو کې له نورو شغلونو سره، په ځانګړې توګه د ملکي خدمتونو د غړیو انتخابول د پارلمان غړيتوب ته، او یا نورو (ټاکنیزو) دندو ته د اجرایوي واک سره او یا خو هم په سیمه ییز حکومت کې ناسازګارۍ تعریفوي. د عامه چارو د بېلابېلو دندو تراکم همدارنګه کېدای شي د نه منلو وړ وشمېرل شي. د cumul des mandats (د اختیاراتو تراکم، د کوم یوه په وجه چې سیاستوال کېدای شي په یوه وخت کې تر یوې ټاکنیزې دندې زیاتې ولري) په فرانسه کې د کلونو کلونو لپاره تر بحث لاندې ول، خو قانون لا اوس هم اجازه ورکوي. د مقرارتو دوه مورده (یو یې اصلي قانون او یو یې عادي قانون) د 2014 کال د فبرورۍ پر 14 نېټه اعلان او وضع کړای شول، کوم چې په ځانګړې توګه دې مسئلې ته رسېدنه کوي. داسې په پلان کې ده چې د 2017 کال د مارچ د میاشتې پر 31 نېټه به رسماً د تطبیق وړ وګرځي، د راتلونکو ټاکنو پسې.

په عمومي توګه، خو بیا هم، په ډېریو اروپایي هېوادونو کې داسې ښکاري چې هغه ناسازګارۍ چې پر پارلماني وظایفو اغېز اچوي په پوره توګه قانوني تنظیم شوي ندي، شاید د دې لپاره وي چې د پارلمان غړي پخپله ځانونو ته قانوني تنظیم لري.[18] په ډېرو هېوادونو کې دا کاملاً یوه عادي خبره ده چې د پارلمان غړیو ته دا اجازه ورکوله شي چې یو دباندینی مسلک تعقیب کړي، په داسې حال کې چې د حکومت غړي او لوړ پوړي ملکي مامورین دا اجازه نلري.

له بلې خوا، په داسې حال کې یو لړ هېوادونه په لوړه کچه په قانوني توګه تنظیم شوی سیستم لري (د بېلګې په توګه لاتویا، لیتوانیا، هنګري، بلغاریا، پولنډ، پورتګال، رومانیا، هسپانیا او د امریکې متحده ایالات، همدارنګه د جنوب ختیځې اروپا ډېری هېوادونه)، نور یې یوازې یو لړ ځانګړې موضوع ګاڼي قانوني تنظیموي.[19] سکاندینویایي هېوادونه د ګټو د تضاد لړ 'متراکم' مقررات لري، چیرې چې

18 Demke et al. 2008: 29-35.
19 Vukadinovic and Glintic 2013.

په قانوني ابرازو کې اساساً اصول بیان شوي. دا خبره ټولو ته معلومه ده چې د قواعدو زیاتوالی او تفصیل د قانون د اغېزمنتیا ضمانت نه کوي. د اروپایي اتحادیې په غړو هېوادونو کې تر ټولو قانوني تنظیم شوي موضوع ګاڼي د بې طرفۍ او ناسازګارۍ الزامات دي کله چې په وظیفه کې مقرر وي، په داسې حال کې چې د تحفو او انعامونو موضوع ګاڼي او د کار د پرېښودلو څخه وروسته د غورکولو دورې تر ټولو په ټيټه کچه قانوني تنظیم شوي دي.[20]

د ګټو د تضاد ډېرى حالتونه، خو بیا هم، د قانوني تنظیم او مجازاتو څخه تښتي. دا خبره په ځانګړې توګه جدي ده کله چې دا د دفاعي سکتور په هکله وي، چیرې چې د سولې او جګړې مسئلې دي، یعني د مرګ او ژوند سوال دی. د عامه چارو د حسابورکوونې نوښت چې په متحده ایالاتو کې یو غیر انتفاعي سازمان دی، په دفاعي صنعت کې یې د مخورو دفاعي کارپوهانو چې د خبره توب ادعا کوي (خپل ځاني نوملي)، شخصي ګټې په ګوته کړې. خو سره له دې، دا کارپوهان د رسنیو لخوا په هغو بحثونو کې چې آیا متحده ایالاتو ته پکار وه چې په سوریه کې پوځي مداخله وکړي، داسې معرفي شول چې د عامه ګټو استازیتوب کوي.[21]

دې ته ورته یو وضعیت د اروپایي خواړو د مصئونیت د مقام (EFSA) په وړاندې مکرراً اظهار کړای شو. د اروپایي نظارت د سهامي شرکت یو رپوټ تر ('ناخوښ خواړه') عنوان لاندې،چې د 2013 کال په اکتوبر کې خپور شو، دا خبره افشا کړله چې د EFSA 59 سلنه د علمي هیأت غړي د هغو شرکتونو سره چې د EFSA تر مسئولیت لاندې راځي، مستقیمې او یا غیر مستقیمې اړیکې لري. په بله وینا، کابو د EFSA علمي هیأت غړو دوه پر دریمه برخه د ګټو تضاد درلود او نښې کېدای چې د هغه سکتور څخه یې خپلواک وبولو ، کوم چې دوی په قانوني توګه

20 Demke et al. 2008. 57.
21 Public Accountability Initiative. 2013. “Conflicts of Interest in the Syria Debate: An analysis of the defense industry ties of experts and think tanks who commented on military intervention”. Available at: http://public-accountability.org/2013/10/conflicts-of-interest-in-the-syria-debate/

تنظیماوه.[22]

د جرمني ورځپاڼې *Der Spiegel* رپوټ د 2013 کال د سپتمبر پر 10 نېټه دا خبره جوته کړه چې د اروپايي کمیسیون چارواکي د پلوۍ د بدلېدلو لېوالتیا لري کله چې دوی د خصوصي سکتور سره یوځای کېږي. دوی په چینايي شرکتونو کې، د سګرېټو په تولیدوونکو شرکتونو کې او یا د PR په شرکتونو کې مقامونه تر لاسه کوي – او د دوی د پخواني همکارانو لخوا چې د اروپايي اتحادیې په بنسټونو کې کارو کوي د ګټو پر بالقوه تضاد ډېر کله سترګې پټېږي.[23]

د امریکې د خواړو او داروګانو اداره (FDA) د مصئونیت او نوي جوړونې قانون په دې وروستیو کې د FDA د مشورتي کمېټې د غړو لپاره د ګټو د تضاد مقررات ساده کړل، خو د FDA د داروګانو

د منظورولو پر بهیر د غړو د مالي اړیکو د نفوذ په هکله اندېښنې شته. د میلبانک د یادونې د وجهي صندوق Milbank Memorial Fund لخوا یوې څېړنې د یوه ستر په تازګۍ سره په لاسرسي کې د معلوماتو د بانک په کارولو سره په ډېر احتیاط سره د FDA د مرکز د داروګانو د ارزښت موندنې او څېړنې او (CDER) د مشورتي کمېټې تر منځ د غړو د ګټو تضاد وازمایه چې آیا دغو غړو د دغو ګټو په لېوالتیا خپلې رایې ورکړې او که نه.[24] طبي کړنې او تعیین شوې درملنې د طبي مسلک په مسلکي قضاوت پورې اړه لري ، کوم چې کېدای شي په کلکه د دارويي شرکتونو د لابیو لخوا تر اغېز لاندې راشي.[25] د دغه راز طبي قضاوت خپلواکي او بې طرفي ډېر کله تر سوال لاندې راځي.

22 Corporate Europe Observatory, "The European Parliament demands stricter regulation of conflicts of interest at EU's food safety authority." Available at: http://corporateeurope.org/pressreleases/2014/04/european-parliament-demands-stricter-regulation-conflicts-interest-eus-food

23 Schult, Christoph and Christoph Pauly.2013. "Conflicts of Interest: Brussels' Revolving Door for Top EU Officials." *Der Spiegel On Line*, 9 October 2013. Available at: http://www.spiegel.de/international/europe/european-commission-officials-and-potential-conflict-of-interests-a-926792.html

24 Pham-Kanter, Genevieve. 2014. "Revisiting Financial Conflicts of Interest in FDA Advisory Committees". *The Milbank Quarterly* 92 (3): 446–470; DeAngelis, Catherine D.. 2014. "Conflicts of Interest in Medical Practice and their Costs to the Nation's Health and Health Care System". *The Milbank Quarterly* 92 (2): 195–198.

25 See, for example Caroll, Aaron E. 2014. "Doctors' Magical Thinking About Conflicts of Interest". *The New York Times*, 8 September 2014. Available at: http://www.nytimes.com/2014/09/09/upshot/doctors-magical-thinking-about-conflicts-of-interest.html?_r=1&abt=0002&abg=1%20-

# د اجراکولو کمزورتیا یا Achilles’ Heel

د ګټو د تضاد په مدیریت کولو کې تر ټولو ګرانه پوښتنه، شاید، د تکلاري تطبیقول او د مقرراتو د موخو، جمله بندیو او روحیې د پرځای کولو څخه ډاډ تر لاسه کول وي. Demke et al یې مومي چې:

- هر څومره چې زیاد قواعد موجود وي، هغومره د مدیریت کولو ظرفیت ته اړتیا شته چې دا مقررات او معیارونه تطبیق کړای شي. په داسې حال کې چې انفرادي مقتضیات د نویو الزاماتو په پوره کولو کې مخ پر زیاتېدو دي، په ډېریو مواردو کې، د کنټرول او مدیریت کولو هیأتونه (لکه د اخلاقو کمیټې) کمزورې دي او سرچینې یې کمې نشته.[26]

دغه موندنې د ګټو د تضاد د قانوني تنظیمولو لپاره د هراړخیزو شېبوو کارول ننګويي. اجراکول دې ته اړتیا لري چې د لوړ پوړو چارواکو او سیاستوالو ځانګړې خصوصیات دې په نظر کې ونیول شي، یعنې، د ملکي کارمندانو اخلاقي رژیمونه باید په مستقیمه توګه د محک په توګه د عامه چارو د لوړ پوړو چارواکو او سیاستوالو لپاره ونه کارول شي. د نظارت کوونکي هیأت څخه د ګټو د تضاد په اړه چټک ځوابونه د سیاسي رسواییو پر بنسټ ته پکار ده چې د عامه چارو د هیأت د اعتبار محافظت وکړي او د خلکو ویسا وساتي. خو بیا هم، چټک ځوابونه کېدای شي ډېر کله د اوږدو او طاقت فرسا میتودونو سره کوم چې هلته د دې لپاره دي چې د اداري پروسیجرونو او جنايي تحقیقاتو د منصفانه پرځای کونې ضمانت وکړلای شي، توافق ونلري.

د ګټو د تضاد د رژیمونو کمزوري تطبیقول چې لوړ پوړي چارواکي پکې ښکېل دي ورځ په ورځ د مدني ټولنې او ازادې عامه نظریې لخوا لږ په لږه د زغملو وړ ګرځي. د مقرراتو د زیاتېدو او د دوی د ټېټې کچې اجراکولو تر مینځ ښکاره اختلافات داسې ښکاري چې د عامه خلکو د نیوکو د زیاتوالي لامل وګرځي، په عامه سکتور کې د خپل ځاني تنظیمولو سیستم د بدنامی او رسوایی سره مخامخ کړي. له همدې کبله د ګټو د تضاد د اجراکولو غښتلیو هیأتونو ته اړتیا ده ، او په مخ پر زیاتېدنکې توګه. دوی باید داسې حقوقي واک ولري چې د اړوندو مقرراتو تحقیقات ترسره کړي او اجرا یې کړي، او ناوړه چلند مجازات کړي.

د یو شمېر هېوادونو تجربه ، لکه متحده ایالات، د ګټو د تضاد پېچلتوب په ګوته کوي او داسې وړاندیز کوي چې د مدني ټولنو نظارتي ډله کېدای شي په همدې شان مهمه وي لکه د قوانینو او مقرراتو په مناسبه توګه اجرااکولو ته غاړه ایښودل. څرنګه چې د آسیا د پراختیایي بانک (ADB) او د OECD د فساد ضد د نوښت لخوا په ګوته شول (2007):

- د ګټو د تضاد په مدیریت کولو کې مخنیوی یا وقایه تر اجراکولو کم لګښته ده؛ خو بیا هم، دوی د ښه حکومتولۍ د ترویجولو او د فساد پر وړاندې

---
26 Demke et al 2008: 8.

د مبارزې لپاره ډېر اړين دي. د چلند عمومي قوانين، د شتمنيو او ګټو افشاکول، او د عامه تعليم او باخبرۍ کمپاينونه چې بنسټيزې مفکورې او استثناوې يې د اخلاقي چلندونو لپاره طرح کړي، بايد د روښانه مجازاتو او د تطبيقولو د تدابيرو په واسطه متوازن وي تر څو اطمينان تر لاسه شي چې هم د ګټو د تضاد لاملونو او هم يې اغېزو ته په مناسبه توګه رسېدنه شوې وي.[27]

27 ADB/OECD Anti-Corruption Initiative for Asia and the Pacific. “Managing conflicts of interest. Frameworks, tools, and instruments for preventing, detecting, and managing conflict of interest”. Available at: http://www.adb.org/sites/default/files/publication/27975/managing-conflict-interest.pdf

# نتيجه ګيري

1. د ګټو تضاد، د هغه د تښتېدونکي او نه ګيرېدونکي کرکټر سره سره، بيا هم واقعي دی. ناقانونه ګټې کولای شي د عامه ژوند په ټولو برخو کې پر پرېکړو اغېز واچوي، د خصوصي اقتصاد په ګډون. په تطبيقولو کې يو زيات شمېر ګواښمنې پايلې شاملې دي، د بېلګې په توګه، طبي درملنه، د سولې او جګړې مسئلې، عدالت او بې عدالتي. د ګټو د تضاد په پوره توګه له منځه وړل په پرېکړې کونې کې شايد ناشوني وي، خو د ګټو د تضاد په هکله عامه خبرې اترې او بحثونه د دوی اغېز کمولای شي.

2. په داسې حال کې چې يو ښه قانوني تنظيم شوی سيستم اړين دی، هغه په خپل سر کافي ندی. که څه هم ډېر قانوني تنظيمونه او د کړنو مقررات ښه دي، خو ډېر کله هغو ته په جدي توګه نه کتل کېږي. که چيرې هغوی عامه چارو چارواکو او حکومتي بنسټونو په اړه د عامه بې اعتمادۍ په فضا کې زېږېدلي وي، ويسا به محتمله نه وي چې په سادګۍ سره د يو لړ قانوني بدلونونو په نتيجه کې رامينځته شي. اولس به يوازې پدې ډاډ تر لاسه نکړي که چيرې مازې پوه شي چې په هېواد کې يې د ګټو د تضاد په اړه غښتلي مقررات شته. زيات کار ته اړتيا ده چې اعتماد جوړ کړای شي، په ځانګړې توګه يو ښکاره، پايا، منسجم او اغېزمنه پرځای کونه/اجراات.

3. څېړنې او ازمېښتونه ښيي چې اغېزمنه سياسي رهبري، يو غښتلی قانوني چوکاټ، او خپلواکې رسنيې اړينې دي چې د ګټو تضاد کشف کړای شي، مخنيوی يې وشي، او مديريت يې وکړای شي. د عامه افشاکوونې تاسيسول، کومه چې په عامه ژوند کې او همدارنګه په شخصي مناسباتو کې د لوړې کچې اخلاقي معيارونو ته استحکام ورکوي، په واضحه توګه به د يوې هوډمنې رهبرۍ څخه په رأس کې ګټه پورته کړي. شفافيت او انصاف همدارنګه اړينې اجزاوې دي. په پای کې، يو مسلکي او په مناسبه توګه تاديه شوي ملکي خدمتونه، د سياستوالو او عامه چارو مسئولينو د دندو په اړه واضح مقررات، او هم په ملي او هم په سيمه ييزه کچه پر حسابورکوونې باندې ټينګار ، دواړه لازم الاجرا دي.

# د ښه حکومتولۍ د لړۍ لارښودونه









په عامه سکتور کې د ګټو د تضاد پر وړاندې د مبارزې لارښود پر دې خبرې غور کوي چې د دوو حوزو پر وېش باندې ديموکراسۍ په څه ډول جوړې شوې: مدني ټولنې او مارکېټ / بازار (خصوصي سکتور)، او دولت (عامه سکتور)، کوم چې د سياسي او اداري حکومتولۍ استازيتوب کوي او بايد په ځان کې عمومي ګټې راونغاړي. د ګټو د تضاد تصور د ټولنې د عامه او خصوصي حوزو تر مينځ  دمتقابل فعاليت چارچاپېر اخلاقي او تنظيمي ستونزو پېچلوالی احتوا کوي. د ګټو تضاد پر محتوا ډېر اړوند دی، کوم چې کولای شي د تګلارو جوړوونکو ته داسې لارښودنه وکړي چې په نااغېزمنه توګه ورته مراجعه وکړي او قانوني تنظيم يې ترسره کړي.

**ښې حکومتولۍ ته لارښودنې** د کوچنيو کتابګيو يوه ټولګه ده چې هر يو يې په خاصه توګه په دفاعي سکتور کې د ښه حکومتولۍ د موضوګانو د اهميت په اړه بحث کوي. دوی کېدای شي چې د هغو کسانو لخوا ولوستلې شي چې يا په يوې موضوع کې لېوالتيا لري او يا خو هم په يو زيات شمېر موضوع ګانو کې چې په دفاعي سکتور کې د ښې حکومتولۍ په اړه دي ، يوه لېوالتيا ولري – او يا په عامه سکتور کې په عمومي توګه – او دوی همدارنګه کېدای شي د تعليمي موخو لپاره وکارول شي.

ژباړونکی: د صداقت او رښتينولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې
ډيزاين: www.melkeveien.no
چاپ: د ناروې حکومت امنيتي او خدماتي سازمان
د 2015 کال د جون مياشت

پښتو ژبې ته د اصلي انګرېزي متن
ژباړه د ناټو په مټ ترسره شوې

NATO
OTAN

CENTRE FOR INTEGRITY
IN THE DEFENCE SECTOR
www.cids.no